# ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کونکے



# سلیمان هوښیار بادشاه

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.

داؤد بادشاه د خدایٔ پاک یو عظیم انسان وو. د داؤد حکومت
د ساؤل بادشاه د حکومت نه چې بنی اسرئیلو بادشاه وو لس
چنده لویٔ وو. خو اوس هغه نوره بادشاهی نهٔ شوه کولے،



ځکه چې داؤد
بوډا شوے وو!
ستړے شوے
وو! ناجوړه
وو! او تقریباً
چې د هغهٔ ژوند
په زمکه باندې
ختمېدو ته
نزدې وو.



د داؤد ډېر زامن وو د هغهٔ
په زامنو کښې ادونيا هم وو،
هغهٔ به ټولو بنی اسرائيلو ته
وئيل چې زهٔ به بادشاه يم ادونيا ښهٔ
سړے نهٔ وو. هغهٔ د تخت اخستلو
کوشش وکړو، هغه ته دا پته وه
چې داؤد ما سره مقابله نهٔ شی
کولے ځکه چې هغه ډېر زيات
کمزورے دے. خو د خدائ
پاک نورې منصوبې وې.

د داؤد ښځې بت سبع ته دا پته
وه چې د هغې زوئ سليمان
بادشاه جوړېدل په کار دی.
هغې داؤد ته د ادونياه د
منصوبو په باره کښې ووئيل. د
ناجوړتيا په وجه باندې داؤد
خپل ټول مشران راجمع کړل او
د ټولو په وړاندې يې سليمان د
بنی اسرائيلو بادشاه جوړ کړو.





سلیمان ته به د ادونیاه د طرف نه هیڅ پرېشانی نۀ وه ځکه
چې د بنی اسرائیلو خلقو په داؤد باندې یقین ساتلو. داؤد
هغوئ ته ووئیل چې خدائ پاک د بنی اسرائیلو د پاره
بادشاه خوښ کړے دے نو هغه صرف او صرف سلیمان
دے. او لږه موده پس داؤد مړ شو.





داؤد د مرګ نه مخکښې سليمان سره د
خدایٔ پاک د فرمانبردارئ او د يو ښهٔ بادشاه
جوړېدو په خقله خبرې اترې وکړې. داؤد
سليمان سره تا دا هر څهٔ وښودل، او دا يو
ښهٔ نصيحت وو. د خدایٔ پاک په لار باندې
تلل کوه، د دې د پاره چې تهٔ په هغه څهٔ
کښې ترقی وکړې څهٔ چې تهٔ کوې. بيا
سليمان د خپل پلار داؤد په تخت
باندې کېښناستلو، او د هغهٔ
بادشاهی مظبوطه شوه.

یوه شپه، سلیمان خوب ولیدو. د
هغهٔ په خوب کښې خدائ پاک
هغهٔ ته څرګند شو او
ورته یې ووئیل،
وغواړه، زهٔ تا
له څهٔ درکړم؟
تهٔ څهٔ غواړې؟



سلیمان د بادشاهئ د پاره حکمت غواړی، د سلیمان بادشاه
په دې غوښتنې باندې خدائ پاک
خوشحاله شو. آیا سلیمان
بادشاه چې څۀ
وغوښتل نو هغه
ورته ملاو
شول. خدائ
پاک هغۀ سره
د عزت او
دولت ورکولو
وعده هم وکړه.



د سلیمان په حکمت باندې د پوهېدو د پاره خلقو ډېر وخت وانۀ خستلو. یوه ورځ، دوه مېندې یو ماشوم سره راغلې.
نو یوې ښځې ووئیل چې د دې ښځې زوئ د شپې
مړ شوے دے او دې خپل مړ زوئ زما
ژوندی زوئ سره بدل کړے دے.
هغه دوېمه ښځه وائی چې نه دا
ژوندے زوئ زما دے او هغه مړ
زوئ د دې دے. نو سلیمان
بادشاه دا څنګه معلوموله
شی چې د دې ژوندی ماشوم
خپله مور څوک ده؟



بیا سلیمان بادشاه حکم وکړی، چې ما له تُوره راوړئ. نو هغوئ توره راوړه، نو ستاسو په خیال به بادشاه تُورې سره څۀ کوی؟



او بادشاه حکم وکړو، چې دا ژوندے ماشوم دوه ټکړې کړئ او نیم یوې ښځې له ورکړئ او نیم بلې ښځې له ورکړئ. بیا د ژوندی ماشوم مور ووائی. اے زما مالکه! دا ژوندے ماشوم دې ښځې له ورکړه خو هغه مړ کوه مه.



خو هغه دوېمې ووئيل، چې دا
ماشوم به نۀ زما شی او نۀ به ستا
شی، دے ټوټې کړئ.





بیا بادشاه حکم وکړی چې
هغه اولنئ ښځې له دا
ژوندے ماشوم وکړئ. هم
هغه د دې ماشوم خپله مور
ده. کله چې ټولو بنی
اسرائیلو د بادشاه دا انصاف
ولیدلو نو هغوئ د بادشاه
ډېر تعریف وکړو. او هغوئ
د خدائ پاک حکمت په
بادشاه کښې ولیدۀ.

د بنی اسرائیلو د پاره داسې ځائ نهٔ
وو چې هلته کښې هغوئ د خدائ پاک
عبادت وکړی. کله چې داؤد د خدائ
پاک د عبادت د پاره د کور جوړولو
اراده وکړه نو خدائ پاک فرمائیلی وو.
چې ستا زوئ به
زما د



پاره یو کور
جوړ کړی. نو بیا
سلیمان په یروشلم کښې د خدائ
پاک د کور جوړول شروع کړل.

د خدایٔ پاک د کور په
جوړولو باندې اووهٔ کاله
ولګېدل. خو هغه لویه
ورځ راغله چې ټول خلق
د خدایٔ د کور د وقف



کېدو او د سلیمان
بادشاه د خبرو اورېدو د
پاره راجمع شول.



د یوې ښکلې دعا کولو نه
پس، بادشاه او خلقو ډېر په
خوشحالئ سره زرګونو
قربانۍ وکړلې،

او هغوئ تر
دوؤ هفتو پورې دا
خوشحالی وکړه.



د هغې نه پس، خدائ پاک
دوباره سليمان بادشاه ته څرګند
شو. نو خدائ پاک هغۀ سره او
بنی اسرائيلو سره تر هغه وخته
پورې د برکت ورکولو
وعده وکړه تر
کوم وخته پورې
چې هغوئ د
خدائ پاک
فرمانبرداری
کوی.



د افسوس خبره ده چې نهٔ سليمان او نهٔ د بنی
اسرائيلو خلقو هميشه د خدائ پاک فرمانبرداری
وکړه. بادشاه ډيرو داسې ښځو سره ودونه وکړل چې
خدائ پاک نهٔ غوښتل چې هغه هغوئ سره وادهٔ
وکړی. او د هغهٔ ښځو د هغهٔ زړهٔ د بتانو طرف
ته واړولو. او د هغهٔ زړهٔ د مالک خدائ پاک
وفادار نهٔ وو لکه څنګه چې د
هغهٔ د پلار داؤد زړهٔ د
خدائ پاک
وفادار
وو.



کله چې سلیمان د خدایٔ پاک د فرمانبردارئ موقعه ضائعه کړه، نو د هغهٔ د یو افسر یربعام یو ډېره حېرانونکې تجربه وشی، یو نبی هغهٔ ته ووئیل چې خدایٔ پاک به د سلیمان بادشاهی تقسیم کړی.



او یربعام به په دولس قبیلو کښې په لسو قبیلو باندې حکومت کوی. یربعام فوراً مصر ته وتښتېدو. هغهٔ ته پته وه کهٔ چرې زهٔ دلته کښې پاتې شم نو سلیمان بادشاه به ما ووژنی.



او آخر دا چې سليمان مړ
شو. او د هغۀ زوئ رحبعام د
خلقو نه د سليمان نه هم زيات
محصول واخستلو. نو هغه لسو
قبيلو بغاوت وکړو، او داسې هغه
لسو قبيلو يربعام خپل مشر جوړ
کړو. د سليمان عظيمه
بادشاهی په دوؤ حصو
کښې تقسيمه شوه، لکه
څنګه چې د خدائ پاک
نبی وئيلی وو.



خدائ پاک
نافرمانه خلقو
له برکت نۀ
ورکوی.

# سلیمان هوښیار بادشاه

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصۍ

شته دے

اول بادشاهان ۱ – ۱۲

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ـ"

زبور 130:119

ختم شو

دا قیصۍ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل
یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا ریښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ
ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم.
زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولۍ او خدائ سره روزانه خبرې وکړۍ، یوحنا۳:۱۲